پوهنمل ګل رحمن رحماني

# ابهام او لوستونکی

# Ambiguity and Reader

**Assistant Prof. Gul Rahman Rahmani**


## Abstract

There is a great deal of ambiguity in contemporary Pashto literary texts. The creator of literary texts has consciously and unconsciously created ambiguity at the high and low levels; But on the other side of the text, there is also the reader or the audience who are confused in the two ways of contradictory and contradictory meanings and is waiting for the guides to help him reach the destination that the creator of the text expects from him. In general, ambiguity in poetry and literary texts, in addition to other literary expressions, is born from symbols, because symbols rely more on logic than reason, and this logic is matured and understood with the help of symmetry.

The mind must be attached to the meaning of the principle as the reader in the metaphors reaches the goal or purposes with the help of symmetry. Literary critics hold that metaphor is based on an external analogy; but the symbol, on the contrary, relies on internal and mental symmetry. There must be a connection and awareness between the poet and the audience.

## لنډیز

په اوسنیو پښتو ادبي متونو کې ابهام په پراخه کچه موجود دی. د ادبي متن پنځګر په شعوري او لا شعوري ډول د لوړې او ټیټې کچې ابهام پنځوي، خو بل لور ته هغه لوستونکی هم شته چې د متضادوو معناوو او تناقضاتو پر دوه لارې کې سرګردانه ګرځي او د معناګانو هغه منزل ته په رسېدو کې لارښوونې ته انتظار دی چې پنځګر یې تمه لري؛ هسې خو په عمومي ډول په شعر او ادبي نثرونو کې ابهام د نورو ادبي وسیلو تر څنګ له سمبولونو څخه زېږي، ځکه چې سمبولونه د عقل پر ځای پر منطق ډېره تکیه کوي او دا منطق د قرینې په مرسته پوخوالي او فهم ته رسېږي، ذهن باید له اصلي معنا سره وصل شي، کټ مټ لکه استعاره کې چې د قرینې په مرسته لوستونکی تر اصلي موخو پورې رسېږي. د کره کتونکو نظر دا دی چې استعاره په بهرنۍ قرینه ولاړه وي، خو سمبول بیا په داخلي یا ذهني قرینه تکیه کوي، د شاعر او لوستونکي تر منځ باید یو پوهاوی یا تړون موجود وي. بله دا چې په استعاره کې قرینه بهرنۍ وي، د ژبې د قواعدو تابع ګرځي او د استعارې معنا محدودوي، ځکه له استعارې همغه یوه مجازي

معنا اخیستلی شي، خو په سمبول کې چې بهرنۍ قرینه نه وي، ځو معناوې ورکولی شي، همدا ځو معناوالی داسې ابهام رامنځته کوي چې د لوستونکي او پنځګر د اصلي موخې تر منځ دېوال ګرځي.

دلته مهمه خبره داده چې ابهام څومره کولی شي د لوستونکي د لټون او تجسس روحیه و روزي او لوړه یې کړي، د ابهامونو له منفي او مثبتو اړخونو هم سترګې نه شو پټولی. که چېرته شاعر په ابهام کې د ژبې جوړښت او ژبنۍ ښکلا اړخ ته زیاته پاملرنه وکړي، نو ښایي ابهام یې منفي اړخ ولري، خو برعکس که چېرته یې پر منطقي اړخ او تړاو ډېره خواري وکړي، په دې حالت کې ابهام مثبت او اغېزناکه بڼه پیدا کوي او لیکوال خپلې موخې ته رسېږي. دا موخه په لوستونکي کې د تجسس رامنځته کول دي چې په حقیقت کې د هغه کلام ته شاعرانه یا په ټوله کې ادبي ارزښت وربخښي.

## سریزه

د ادبي متونو لوستونکی هر وخت په اسانۍ سره هغو مفاهیمو او معناګانو ته نه رسېږي چې د متن پنځګر یې تمه لري، که ټول نه وي، نو ګڼ لوستونکي  ډېر ځله د متن لوستنې پر مهال له دوه زړیتوب سره مخ وي چې متن کې  دا خبره  او معنا سمه ده او که هغه بله؟

دا دوه زړیتوب یې په متن کې د پنځګر له لوري هغه راوړل شوي تناقضات او پېچلتیاوې دي چې د اصلي موخې او معنا په اړه یې پرېکړه کول ګران وي. د ظاهري او پټې یا مجازي او حقیقي معنا تر منځ یې سرګردانه کېږي او د دواړو معناوو تر منځ یو درېیم اړخ د نوموړي د بېل لارۍ یا له اصلي موخې څخه د لرې والي سبب ګرځي. په ادبي متن کې د ابهام د ایجاد بېلابېل وسایل په خپل وار سره لوستونکی له واحدې لارې څخه په ګڼو فرعي لارو تګ ته وربولي او څومره چې دا وسایل لکه استعارې، مرسل مجاز، سمبول، کنایې، ژبني ترکیبونه او نور بلاغي توکي زیاتېږي، نو د لوستونکي تجسس هم په ذهني سرګردانۍ اوړي، دقیقه لوستنه تکنۍ کېږي او د متن ادبي ارزښت په ټاکنه کې خنډ او ځنډ راځي.

ابهام د علم او هنر تر منځ په ډېر نازک برید ولاړ دی. د هنرمن هڅه دا وي چې په خپلو آثارو کې د ښکلا او لوستونکي د ننګولو او روزلو لپاره ابهام رامنځته کړي، لټون او ذهني کشمکش ته یې وهڅوي، خو عالم بیا له ابهامه په تېښته وي او غواړي چې لوستونکي ته صراحت ورکړي، په مبهمو خواوو پسې د صراحت څراغ را واخلي. په ادبي او هنري متن کې ابهام ښکلا او کمال ګڼل کېږي، خو په علمي متنو کې بیا ابهامونو ته د عیب یا کمزورۍ په سترګه ګوري.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

په پښتو اوسنیو ادبي متونو کې ګڼ ابهامونه شته دي چې ډېر یې د ښکلا، ادبي ارزښت او هنري اړخونو د پیاوړتیا په موخه نه دي راوړل شوي او ډېر ځله پر متن، موضوع او ژبه د لیکوال حاکمیت نه لرل ددې لامل شوي چې د شعر او ادبي نثر ابهامونه منفي اړخ پیدا کړي، د لوستونکي د ادبي روزنې او متن د ادبي ارزښت په ټاکنه کې خپلې اصلي موخې ته ونه رسېږي.

## د څېړنې موخې

له دې مقالې څخه زما موخه دا وه چې د ادبي متن پنځګر دې ته ځیر کړم چې په متن کې د ښکلا او ادبي ارزښت د ایجاد په موخه د ابهامونو د راړولو پر مهال یو څه خپل لوستونکي ته هم پام وکړي او له بې ځایه سرګردانۍ یې وژغوري.

## د څېړنې پوښتنې

۱. ابهام څه ته وايي او د ادبي اثر په جوړښت کې څه رول لري؟

۲. د ابهام راوړلو موخه څه ده او لوستونکي ته باید څومره پاملرنه وشي؟

۳. د ابهام په وسیله په ادبي متونو کې د ایجاد شوو تضادونو او پېچلتیاوو د صراحت لاره کومه ده؟

## د څېړنې میتود

په دې مقاله کې د څېړنې له تشریحي او تحلیلي میتود څخه ګټه اخیستل شوې ده، څکه د ابهام موضوع لومړی تشریح او بیا د لوستونکي له زاویې څخه د اړوندو برخو یو څه تحلیل ته اړتیا وه.

## اصلي متن

هر هغه کلمه، اصطلاح، عبارت، جمله یا کوم بل متن چې د مطالعې پر مهال ورڅخه څرګند او پرېکنده مفهوم وانه خیستل شي او د مخاطب ذهن په بې معنا لارو یا هم څو داسې معناګانو سر کړي له خپل صورت څخه نا اشنا وي؛ ابهام بلل کېږي. په ادبي فنونو کې ابهامات ژبنیو پېچلتیاوو سربېره د معاني برخه کې هم پراخه کاري ساحه لري چې د کلام بلاغت څو چنده کوي. په دې توګه باید ابهام ته هر وخت د ادبي متونو د عیب په سترګه ونه ګورو، بلکې دا پرېکړه کله کله په عوامو کې چې پر شعر نه پوهېږي کېږي.

په انګریزي ادب کې د "Ambiguity" کلمه د پېچلتیا او داسې کلمې په توګه کارېږي چې څو تعبیرونه ورڅخه وشي، خو د اصل موندل يې اسانه نه وي، چاته یې چې معنا موندل امکان ولري، ابهام او څوک چې دا څواک نه لري، تعقید دی. اروپایي ادیب ویلیام امپسون په خپل کتاب (د ابهام اووه بڼې) که د ابهام رامنځته کېدو په باب پراخې څېړنې کړي او دې پایلې ته رسېدلی چې ابهام د شعر د محدودیت، وضاحت او دقت د نشتوالي سبب نه ګرځي، بلکې د شعر ښکلاییزه بډاینه کې ونډه اخلي. (۷۸:۳ مخ)

که څه هم ابهامونه بېلابېل ډولونه لري، خو په ادبي ژبه کې په عمومي ډول په درېیو برخو وېشل شوی دی:

**الف) ژبنی ابهام:** ژبني ابهامونه د جملو په ارکانو، د جملې د ارکانو یا برخو په حذف او نقش، نا اشنا تشبیهاتو، تخصصي اصطلاحاتو، د ګرامري نقشونو تنازع، تتو معناوو، لوستنې او څو ژبو عبارتونو کې راوړل کېږي.

**ب) ادبي ابهام:** دا ابهامونه تلمیحاتو، د مجاز ډولونو، نا متعارفو اضافاتو یا زیاتونو، ایجاز، ایهام او تام تجنیس، تمثیل، حس امیزي، د کنایو ډولونو او د استعارې ډولونو کې راځي.

**ج) معنايي یا موضوعي ابهام:** دا ابهام په معنايي پراډکس، انتزاعي تصویرونو، باورونو، ادابو، رسمونو، په جملو او متونو کې د مانیز تیتوالي ... او له مقولې سره د کلمې له ټکر څخه را پیدا کېږي.

د هنر یوه تلپاتې او اړینه ځانګړنه دا ده چې مخاطب د هستۍ له مبهماتو او مجهولاتو سره مخامخ کوي، څو له تفکر او تخیل سره د تړلو موضوعاتو او پدیدو د سپړنې  او ښکېلتیا په لړ کې د هغه ذهن ته د غوړېدو زمینه مساعده شي. مجهولاتو ته عیني نمایش او د عینیاتو مبهم کول په هنر کې یوه مروجه لار ده چې د یوه اثر د پنځونې پر مهال د هنرمن تفکر ننګوي.

ابهام د متن او مخاطب تر منځ د اړیکو ټینګښت  پر مهال د معنا په ایجاد کې یو ډول ګډون او انګیزه جوړوي چې اکثره دا ډول ابهامونه له کم دقت وروسته بېرته له منځه ځي، خو همدا کم فرصت هم مخاطب ته ددې چانس ورکوي چې له هنري اثر سره مخامخ اړیکه ټینګه کړي، دا اړیکه په یوه بې ابهامه فضا کې هېڅکله د رامنځته کېدو وړ نه وه. (۱:۱۶۰ مخ)

د بلاغي علومو د پوهانو په اند په تخلیقي آثارو کې د ابهام د ایجاد اووه لارې یا بڼې شته چې دلته ورته اشاره کوو:

1. د یوې کلمې یا عبارت دلالت په واحد وخت کې په څو معنايي سطحو چې د ابهام، تمثیل او کنایې بڼه لري.
2. د لیکوال د غوره کړې کلمې سره د نورو کلمو ګډول لکه تاویل منلو او ضمني دلالتونو کې.
3. په یوه کلمه یا واحد دال کې په ښکاره د بې تړاوه مفکورې او معنا جمعه کېدل لکه تام تجنیس، محتمل الضدین او دوه وجهي صنعتونو کې.
4. په یوه کلمه یا عبارت کې د دوو دلالتونو یا مختلفو او متفاوتو معناوو داسې جمعه کېدنه چې د لیکوال د ذهني ابهام ښکارندوی وي.
5. له کوم مخکني فکر پرته د کلامي ابهام په بڼه د لیکوال او شاعر له خوا د داسې کلمو غوراوی چې یوازې د لیکنې یا تخلیق پر مهال یې ذهن ته ورځي.
6. کله چې کلامي تعبیر او تفسیر په ښکاره متناقض وي، تحلیل یې لوستونکي ته پرېښودل کېږي چې په کلام کې د تناقض  په بڼه وي.
7. د لیکوال او شاعر د دروني ګډوډۍ، وېش یا ثبات نشتوالي په سبب په کلام کې د ښکاره مانېز تناقض او تضاد د نشتوالي په سبب د ابهام رامنځته کېدل چې له پنځونې څخه د پنځګر ناخبري څرګندوي.

هېره دې نه وي چې د ابهام په پورتنیو ټولو اوو  بڼو کې یو څه مشترک هم دي، د  اشتراک دا وجه په وینا کې پیچلتیا، له یوې مشخصې او قطعي (پرېکنده) معنا څخه تېری  او په دوو یا څو شیانو دلالت دی؛ چې دا ځانګړنه اساسا د شعر او هنر اصلي ځانګړنه ده او له علم څخه د بیان متفاوتې لارې را په ګوته کوي. (۷:۱۸۷ مخ)

که څه هم ابهام د لیکنې په متن کې مستقیم رول نه لري، خو د متن د ایجاد، بشپړتیا او په ځانګړي ډول د لوستنې پر مهال همېشه  د یوې اساسي ستنې په توګه مطرح دی. متن له بشپړېدو وروسته د لوستونکي خدمت ته وړاندې کېږي، د متن په خبرو راوستل، په کې د نغښتي فکر یا مفکورو خپراوی او په کې د نغښتو فکري او فرهنګي بې ژبو یا چوپو عبارتونو او کلمو پاڅون د لوستونکي په غړ او غوښتنه کېږي. په دې اساس کله چې د متن د منځپانګې یوه عمده برخه په ټولنه کې د لوستونکي د ذهنیت او ژبې په اساس انعکاس مومي، نو ددې موندنې مقدار او ماهیت د پیغام رسونې په لېږد کې یو اساسي عامل دی. ابهام له متن څخه د لوستونکي په موندنو یا اخذ کې یوازې د متن په پراخ فهمۍ کې نه دی، د هغه کم معلومات، د سواد ټیټه کچه او تجربې هم په کې شاملې دي چې نه شي کولی خپلې اخیستنې د لیکوال د مفکورو په هېنداره کې د یوه رانه او هم انډول تصویر په بڼه وګوري. (۳:۱۰۳ مخ)

په ادبي متونو کې د ابهام د ایجاد یوه موخه هم لوستونکي لټون او تجسس ته اړکول وي. کره کتونکی اجمل ښکلی د لوستونکی د تجسس په اړه لیکي: تجسس له ابهام سره تړلی دی. تږی لاروی که په سره صحرا کې د اوبو په لټون وتی وي او اوبه ونه مومي، نهیلی کېږي؛ خو دا لاروی که رښتیا هم تر شدیدې تندې او شدید تجسس وروسته د ړنو اوبو په چینه واوړي؛ نو له خولې نه یې بېواره د خوشحالی سبحان الله ووځي. (۵:۵۷ مخ)

کله چې لوستونکی د متن په اړه څه ناڅه پوهاوی ولري، د متن له موضوع څخه یو څه متفاوت تخصص ورسره وي، له لیکوال سره یې تجربې چندان ورته والی ونه لري او یا یې هم په هغه موضوع کې تر دې دمه چندان ژور فکر نه وکړی؛ نو له متن سره د مخامخ کېدو په صورت کې به د همدې متن د فهم برخه کې ډېرې ستونزې ولري. څکه خو شک نشته چې د یوه متن د معنا سمه موندنه ایجابوي چې مخاطب باید له وړاندې په موضوع کې اړینې ذهني اړیکې ولري. کله کله خو بېړه او د دقت نشتوالی یا هم له متن څخه د ورځپاڼو د متن په څېر تصور لوستونکی له ګڼو ابهامونو سره مخامخ کوي. ژوره او عالمانه مطالعه نه یوازې چې په آثارو کې د باطني ستونو د ټینګښت سبب ګرځي، بلکې له لوستونکي سره مرسته کوي چې د متن له محتوا څو قدمه وړاندې لاړ شي او د فکر لوړتیا رهبري کړي.

کله کله داسې هم کېږي چې د ابهام د ایجاد عامل له متن سره د لوستونکي د اړیکې ټینګښت کې زماني او مکاني فاصلې وي. له پخواني متونو، قالبونو او سبکونو سره د لوستونکي عادت او له نوو ادابو او سبکونو سره د هغه د اشنایي او جوړجاړي نشتوالی ددې لامل ګرځي چې د ابهامونو له دېوال سره مخ شي او له ورځنیو ادبیاتو او هنر سره په څنډ او خنډ اشنا شي، په همدې ډول که چېرته د نوو ادبیاتو لوستونکی په نوو سبکونو کې ورک شي او په زاړه یا پخواني ادب کې یې مطالعه کمه وي، له شک پرته چې له ابهامونو سره به مخ وي او هغه متونو کې چې په نوو قالبونو او موضوعاتو کې د ژوند د متفاوتو تجربو حکایت کوي؛ ابهام به یې لوړ وي. (۴: ۲۷-۲۶ مخونه)

ځینو ادبپوهانو ابهام یو ذهني توهم (ډار) بللی دی چې د لوستونکي له دوه زړې توب سره تړلی دی، خو رېښه یې په نه لوستنه او نه پوهېدنه کې ده، په دې اساس کله چې یو شمېر لوستونکي د ادبیاتو د یوې ځانګړې بڼې یا دورې یا هم د یوه شاعر او لیکوال له آثارو سره د ډېر پېچلتیا او جدیت په سبب لېوالتیا نه څرګندوي، لامل یې دا دی چې له دا ډول ادب سره ډېر کم سروکار لري او هغه تصویر چې دده په تصور کې نقش شوی دی، له واقعیت سره ډېر تطابق نه لري. (۶۳۹:۵ مخ)

په ګڼو متونو کې ابهام له دې امله زېږېدلی چې لوستونکي خپل مخاطب نه دی پېژندلی یا یې تصور دا وي چې ګڼې مخاطب یې ددې موضوع په اړه پوره پوهېږي او تکرار ته به یې حاجت نه وي، دلته موخه دا ده چې د یوه مطلب له راوړنې یا تکرار پرهېز او پر ځای یې پر لنډیز او اشاره بسنه کول هم ابهام رامنځته کېږي. کله هم یوه موضوع د مخاطب پر وړاندې د خپل عمومیت او عام پېژند په سبب یوازې په لنډه اشاره خلاصه کېږي، دلته په دوارو موردونو کې تر ډېره د همدې مطلب د مطالعې زمان او مکان د وخت په تېرېدو سره د بدلون لامل ګرځي، راتلونکي نسلونه او ګلونه چې مخاطب ددې موضوع مطالعه کوي؛ نو دا مهال شونې نه ده چې همغه معلومات دې ورسره وي، طبیعي ده چې په درک کې یې له جدي ابهام سره لاس او ګرېوان کېږي. (۴۳:۲ مخ)

هر متن له خپلو څېرکو یا اړخونو او تصویرونو سربېره هم په ځان کې د ځینو ناویلو خبرو او ضمني مفاهیمو یوه ټولګه لري چې پنځګر یې نه دی توانېدلی یا یې هم نه دي غوښتي چې په مستقیم ډول یې متن کې ثبت کړي، کله یې بیا په ساده اشارو بسنه کړې او کله هم له یوه معنا لرونکي سکوت سره ورڅخه تېر شوی دی. ددغه سکوت د راز او رمز کشف چې له ډېرو ناویلو ډک دی او پنځګر په خپل اثر کې د غوراوي په یوه ځانګړې بڼه شاته پرېښی، د متن په جوړښت کې داسې دقت ته اړ دی چې بېلابېلې سویې لري، څو د پیدایښت سیاسي، ټولنپوهنیزې او ارواپوهنیزې خواوې یې به سم ډول ارزیابي شي، په دې چې په ځانګړې دوره، ځانګړې موضوع او د انتخاب ځانګړو دلایلو کې د یوه اثر د تخلیق د علتونو کشف د همغه اثر په ایجاد کې د هنري جوړښت او د بیان طرز، همداسې ګڼې نورې پوښتنې؛ هغه ناویلې خواوې دي چې خپله له ځان سره ډېرې خبرې لري او اهمیت یې د متن له مستقیمو خبرو څخه کم دی.

د هنري جوړښتونو ماتېدل او لوستونکی د اثر په ظاهرا پاشلو او حق یو له بل سره د بې ارتباطه برخو له ټولګې سره مخامخ کول هم په لوستونکي کې د ابهام د ایجاد سبب ګرځي، په دا ډول جوړښتونو کې لوستونکی نه یوازې چې په متن کې د درج شوو مفاهیمو په موندنه کې له ستونزې سره مخ وی، بلکې د اثر د ظاهري سکښت له نوي او دود شوي سکښت سره د اړیکې په ټینګښت کې هم چې د اثر د ظاهري کودونو او خبرو مطالعه او د مفاهیمو موندنه ده.په اسانۍ نه شي وتلی او اکثره وخت یې له مطالعې څخه مخ اړوي یا یې هم پوره نا لېوالتیا سره لولي، خو په پایله کې له خپل کار څخه چندان ګټوره پایله نه شي اخیستلی، دلته یوازې هغه لوستونکی بري ته رسېږي چې مسلکي او د لیکنې له دې میتود سره اشنا وي. (۴۸:۸ مخ)

د هنري نرۍ لید ترکیب او په کې له شته امکاناتو ګټه اخیستنه چې د لیکوال له لوري د متن د بډاینې او معنا ته د څو ګونو زاویو د ښوودنې لپاره ورکول کېږي. لوستونکی له متن او موضوع سره د اسانه اړیکې په جوړولو کې له ستونزو سره مخ کوي او په آثارو کې د هنري ابهام لامل ګرځي.

دا ډول استفادې چې په ځانګړي ډول روایتي، نندرایز او سینمایي سکښتونه دي، ریالیستي فضا چې د لوستونکي لپاره اشنا ده، د کیسو، افسانو، ماوراء طبیعي عالمونو، خیال او خوبونو په ځانګړي ډول جادویي ریالېزم او نورو هنري مکتبونو سره ګډېږي او لوستونکي ته یو پاروونکي متن رامنځته کوي چې اکثره وخت لوستونکی/ مخاطب د هنري منطق او معناافرینۍ له خصوصیت وړاندې د اثر په دروني ځانګړو واقعیتونو کې ورکېږي. په دا ډول آثارو کې د بېلابېلو تاویلونو لپاره زمینه مساعده وي او هر څوک په خپله اراده او تصور له متن څخه حکایت جوړوي، خو ددې ټولو تفسیرونو او تحلیلونو سره سره متن همغسې د مخکنیو رازونو او ابهامونو په څادر کې نغښتی وي.

## پایله

په پایله کې ویلی شو چې زموږ په ادبي متونو کې پراخه ابهامونه موجود دي چې لوستونکی یې په څو لارو سر کړی دی، ددې یو لامل په لیکوال او بل په لوستونکي پورې اړه لري. لیکوال ځکه چې هغه لا د علمي او ادبي ابهامونو له رازه په بشپړ ډول نه دی خبر شوی، د ابهامونو په راوړلو او کارونه کې یې د لوستونکي د تجسس او تحلیل کچه په پام کې نه ده نیولې، په آثارو کې یې د ابهام د ایجاد له وسایلو ډېره استفاده نه ده کړې، دا وسایل د جملو حقوقي معناوو، ګرامري ترکیبونو، استعارو، مرسل مجاز، کنایو، سمبولونو او ژبنۍ تصویرونو مسلکي کارونه ده چې ادیب خپلې موخې ته رسولی شي.

لوستونکی په دې د یادونې وړ دی چې د ورته متفاوتو آثارو پراخه مطالعه نه لري او د خپل تجسس یا لټون په پایله کې د اثر د شاعرانه یا ادبي ارزښت په را سپړلو کې د پنځګر تمه څنګه چې لازمه ده؛ نه شي پوره کولی. د ابهامونو لټون باید لوستونکی ته خپل ځانګړی خوند ورکړي او ددغه راز له موندنې سره لوستونکی ځان تر نورو وګړو ډېر متفاوت حس کړي.

## وړاندیزونه

1. شاعران او دادبي آثارو پنځګر باید د ابهام له اغېزناکو وسایلو څخه مسلکي ګټه واخلي او خپل هنري چلند لوستونکي ته په پام سره عیار کړي.
2. سمبولیک او کنایي بیان پر منطق ولاړ دی او څومره چې منطق عالي او مسلکي وي، هومره د لوستونکي لپاره د ابهامانو د صراحت اړخ ورسره پیاوړی کېږي؛ نو غوره ده چې په ادبي متن کې د منطق دې بنې ته پاملرنه وشي.

3. له ایهام او ابهام څخه موخه لوستونکي ته د خوند او تجسس ورکول دي، پنځګر باید له دې هڅې لاس واخلي چې پر لوستونکي د خپل قلمي یا ادبي عظمت د منلو له لارې پر هغه لار ورکه کړي او دوه زړی یې پرېږدي.

4. د ادبي متن پنځګر باید د پښتو ادبي آثارو اوسنی لوستونکی له یوې مخې په یوازې ځان د ابهامونو جرړ غوټو پرانېستې ته پرېنږدي، باید داسې اشارې او مرستندویې کنایې ورسره پرېږدي چې د هغه موخې او پیغامونو ته په خپل فکري ځواک ورسېدلی شي.

## مأخذونه


1. اسحاقزی، اورنګزیب. د پښتو ادب په لمن کې، مازیګر خپرندویه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۹۷ل کال.

2. بهیر، فهیم. د ادب ټولنیز دریځ، هاشمي خپرندویه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۹۹ل کال.

3. رحماني، ګل رحمن. د تصوراتو بڼې، د ارګ فرهنګي مشاوریت: کابل، ۱۳۹۸ل کال.

4. شریف، جنید. سرتوره ابیقوره، سمون خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹۹ل کال.

5. ښکلی، اجمل .(۱۳۹۳لمریز، تله).((سمبولېزم او ابهام)). منه مجله. پرله پسې(۹مه)ګڼه، خوځښت روزنیزه مؤسسه: وردګ، ۱۳۹۳ل کال.

6. غضنفر. منلی، اسدالله او نجیب. د ادبیاتو دنیا، ازادی راډیویي مجله خپرونه: کابل، ۱۳۹۸ل کال.

7. کرګر، محمد اکبر. سیندونه او اندونه (دویم ټوک)، هاشمي خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹۹ل کال.

8. محصلین (بېلابېل لیکوال). ادبي شنې، د علومو اکاډمي او کابل پوهنتون: کابل، ۱۳۹۷ل کال.